AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۴/۰۸/۱۷

# ډاکټر کرن خان:
# راځئ چې د ګل مرجان او ګل خان له دائرې راووځو!

مرکه: ولي الله ملکزی

د کوزې پښتونخوا سوات چې د ابشارونو، سيندونو او هنرونو کور دی، زموږ د سيمې سويس زرلينډ بلل کيږي. سوات يوازې د نښترو، چينارونو او لال مالټو ټاټوبې نه دی، بلکې هغه د ښکلا ګانو، شاعرانو او هنرمندانو ځاله ده. له نن څخه ۳۸ کاله وړاندې په يوې زميندارې کورنۍ کې يو ماشوم وزيږيد، مور او پلار يې وربانديې د کرن خان نوم کيښود. د کرکيلې ترخنګ يې د دولسم ټولګي پورې مکتب ولوست، بيا د کسب او کار لپاره کراچۍ ته لاړ. هلته د موسيقي له رمزونو، راګونو او سازونو سره آشنا شو او بيرته خپل کلي ته راغی. دلته ډير تم نه شو؛ کوهاټۍ څپلۍ يې په پښو کړې او پيښور ته د تعليم لپاره لاړ.

دا ځل د سفر سختيو ستومانه نه کړ، ماسټري يې واخيسته او د پي ايچ ډي په لټې کې شو. په ۲۰۲۱م کال کې يې د پيښور له پوهنتون څخه « د پښتو د نظم عصري ژانرونه » باندې خپل تيسس وليکه او ډکټورا يې ترلاسه کړه. کرن خان په ډله ايزو رسنيو کې ډير فعاله او ښايسته ډيرعلاقمندان لري. په فيسبوک کې يې د پلويانو شمير درې نيم مليونه، په يوټيوب کې څه کم دوه مليونه او اکس يا پخواني ټويټر کې يولک ته رسي.

په سوات کې د شهرت او سندريز هنر دغه پيل شوې څپې نن د آرام سمندر په غاړې پرتې د کليفورنيا ايالت څنډو ته هم راوسيدې. کرن خان به نن (شنبه/ اګست ۱۷/ ۲۰۲۴م) د سټاکټن په ښار کې د کلتوري ټولنې او ميشتو افغانانو له خوا په لويې غونډې کې خپل هنر ننداري ته وړاندې کړي. د اعليحضرت غازي امان الله خان ترمشرۍ لاندې د پيرنګي د تور استعمار څخه د هيواد د ۱۰۵ کليزې په وياړ دا ورځ دې ټولو ته بختوره وي. ما له ډاکټر کرن خان سره د آرام سمندر د مالګينو په غاړه يوه مرکه کړې چې ستاسو خدمت ته يې وړاندې کوم.




پوښتنه: تا ته به دې مور د کرن په ځای د کابلي غږ کولو، دا ولې؟
(ستا خبره ټيک ده؛ ما به اکثره د قندهاري ګڼ جامې په تن کولې، نو کله به چې زه کور ته راغلم اروابنادې مور به مې راغږ کړ چې کابليه راغلې؟ زموږ خلک د افغانستان په هکله ډير معلومات نه لري او دوئ ټول افغانستان ته کابل وايي).

پوښتنه: ستا له نظره موسيقي څه ډول هنر دی؟ (موسيقي د ښکلو هنرونو يو ژانر دی، موسيقي محبت دی او په انسان کې عاجزي او خاکساري زيږوي. موسيقي برداشت او پخلاينه ده. اباسين يوسفزی وايي: محبت که مې زړګی پوست کړی نه وای - خدای خبر چې زه به څومره بد مزاج وای

موږ چې کله په مځکه کښينو او د خپلې موسيقي آلې را واخلو، بيا دې ته نه ګورو چې زما مخامخ څوک دی؟ موږ د ځينو خلکو د سپکو سپورو له ځواب څخه، نه عاجز يو نه بيغيرته، بس پدې خاطر چپ پاتې کيږو چې زموږ هنر دا اجازه نه راکوي له هرچا سره ونښلو يا د کنځلو ځواب په کنځلو ورکړو).

پوښتنه: د اټک د هغې خوا خلک خپلو سندرغاړو ته شاهنشاه غزل او چا ته ملکه ترنم وايي، خو دې غاړې ته پښتانه خپل هنرمندان په ډول ډول نومونو باندې يادوي، آيا دا هغه څه نه دي چې تا هم ځوروي؟ (ملکزی صيب، داسې ډير لفظونه شته چې سړی کړوي او خاطر يې ماتوي. د آسيا خلک، په ځانګړي ډول د اردو او پنجابي ژبو ويونکي د خپلو هنرمندانو سره بې کچه مينه لري. په دوئ کې ما ليدلي چې غټ هنرمندان يې د نشې په حالت کې راغلي، بدې ردې يې ويلي خو خپلو خلکو يې وربانديې خاورې اړولې دي. که کومه ورځ يې دغه شان خبرو ته هوا هم ورکړې وي، بله ورځ هغه ختمه شوې وي. خو زموږ هنرمندان که چيرته پټ نصوار هم واچوي بيا يې خلک تر کوره ځغلوي. د خيال محمد،



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ناشناس، شاولي او احمد ګل په خير استادان زموږ د هنر ستني لاژوندی دي او بل چيرته په آسانه نه پيدا کيږي، خو ځوک نشته چې دوئ په يومابښام راټول کړي او ښه يې ونازوي. ډير کله، پښتانه په ښکلې پښتو داسې بدې ردې ووايی چې حتی د مور خور کنځلې هم وکړي. د هنرمند ترځنګ، د هغه شاعر او ليکوال زړه هم ټپي کړي. د هرماشوم لپاره خپل پلار اتل وي، دغه هنرمند به د چا پلار، د چا زوی او د چا ورور وي نو په کار ده چې د هغوئ درناوی وشي، يا لږ تر لږه بې عزتي خو يې ونه شي. ما خو هيڅکله نه دي ليدلي چې کله دې کوم هنرمند د کوم سياستوال يا سوداګر يا بل کس سپکه کړې وي؟).
پوښتنه: ما پخپل کتاب «تصوف؛ روحانيت او کړکيچونه» کې د قوالي د لنډ تاريخ يادونه کړېده. کله چې قوالان قوالي غږوي نو صوفيان په وُجد او سوز کې راځي، هره خوا د يعقوب د ړندو اوښکو احساس او د يوسف د سور کميس تلاش وي. د تصوف څيړونکي ليکي چې امير خسرو دهلوي له نن څخه اووه پيړی وړاندې د خواجه نظام الدين اولياء په لنګر کې د هغې بنسټونو ته نوی رنګ او سبک ورکړ. دا راته ووايه چې ستا څرنګه دې خوا ته پام شو او څان درته څومره بريالی ښکاري؟
(په هندوستان کې د قوالي د رامنځ ته کيدو اصلي لامل دا وو چې خلک د اسلامي ارزښتونو او اصولو سره آشنا شي چې تر ډيره حده اغيزمنه هم وه او خلکو اسلام ومنلو. تصوف خو له اسلام او حتی قبل الميلاد څخه مخکې هم يو ډول شتون درلود. د پښتو د سترو ستو لکه رحمان بابا، خوشحال بابا او حمزه بابا په اشعارو کې د تصوف ارزښت او مقامات په ګوته شويدي. پښتنو هنرمندانو لکه اروابښاد رفيق شينواري، خيال محمد، ګلزار عالم، انور خيال او هارون باچا چې زما روحاني استاد دی، د قوالي لپاره کافي کار کړيدی. ما پخپله د استادانو په همکاری او ملاتړ د قوالي اړوند يوڅه نوې اضافې کړيدي. له نهو کالو راهيسې زه هرکال يوه قوالي کوم، د روژې په مياشت کې يې د نورو سندرو په ځای نشروم او خلک يې خوښوي).
پوښتنه: آيا دا سمه ده چې ستا سندريز شهرت د ۲۰۰۹م کال له البم سره غوټه شوی او له دغې ورځې تر نن پورې دې څومره سندرې ويلې دي؟ (په دې نژدې شپاړسو کلونو کې ما درې درې نيم سوه سندرې ويلې او ريکارډ کړېدي. زه د مقدار په ځای په معيار باندې ډير لنګر اچوم. پخوا به ما په کال کې دوه البمه يعنې په هر اختر کې يو البم راويستلو چې هر يو به دولس سندرې لرلې، اوس موږ په مياشت کې دوه سندرې خپروو چې هماغه ۲۴ کيږي. عجيبه دا ده چې کله د خلکو کومه سندره خوښه نه شي، نو بيا وايي فلاني خو هنر او شعر ته زيان واړلو؟
پوښتنه: ليدل کيږي چې ته د ښځينه سندرغاړو سره ډيرې کمې سندرې وايې، دا څه ماجرا ده؟ (کمې خو څه؟ زما خو له ښځينه سندرغاړو سره هډو يوه سندره هم نه شته. زه پښتون هنر کوم او په دې حالت خوښ يم. ما اردو سندرې هم ويلې دي ځکه موږ ته ډيرڅه له دغې ژبې څخه راغلي. البته هلته د ښځو او نرو غبرګې سندرې يو معمول دی.
وروستۍ پوښتنه: چشم بد دور؛ ته چې دومره شهرت لرې او د ډکتورا تر کچې دې عالي تحصيلات هم کړي، آيا کله دې هم زړه کې راځي چې هلکه دا موسيقي او شهرت خو وشو، اوس د سياست په ميدان کې قدم کيږده؟ (نه هيڅکله نه، زه په دوو شيانو نه پوهيږم: يو سياست، بل کريکټ. مګر پښتانه اتلان چې هره خوا وي، ماته ګران دي او زه ورته د قدر په سترګه ګورم. په سياست کې د باچا خان د لارې لاروی يم او تشدد مې نه دی خوښ. زه په ادب او هنر کې د کوزې او برې پښتونخوا له ټولو استادانو څخه زدکړې کوم. يو ډير پوهه کس وايي: «که ته وايي چې دا خلک زما سره دي، نو د دنيا يوجنګ ګټلی شې، خو که هوډ وکړې چې زه د دې خلکو سره يم، نو بيا دې د دنيا يو جنګ هم ندی بايلی» له همدې وجې زه وايم چې راځئ نور د ګل مرجان، ګل خان او دال خور د نومونو له دائرې څخه راووځو؛ موږ بايد دا پړاو شاته پريږدو. بله دا چې په کار ده مذهب له کلتور سره ګډ نه کړو. لکه امريکا او پيښور چې دوه جلا نومونه، فرهنګونه او ځايونه دي او هيڅ خپلمنځي شباهت نه لري).
ډاکټر کرن خان چې په سندريز غږ کې يې د وطن مينه، امن او د ولس درد له ورايه محسوسيږي، د باورونو، بارانونو او ارمانونو شاعر هم دی چې دلته يې زه د بيلګې په توګه څو بيتونه له تاسو سره شريکوم:

ښـــکلـــی ده زمـــا د عـــاشـقـــی قـيـصـــه — مه پوښته د نورې زندګۍ قيصه
نيمه کې تــرې پــاتې شوه سلګۍ شـــولـــه — نـــن بـابـــا کـــوله د ابـــۍ قيـــصه
پلار مې رضا نه وو، مور مې نه پوهيده — داسې وه زما د مـــوسيقۍ قيصه

[د ليکوال نورې ليکنې ليکنې په دی لينک کې ولولۍ]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ